
# پُرعزمه خیبرپښتونخوا

## تخمینه 2020–21

## دَ عوامي پوهې لپاره




# دَ دې کتابچې په حقله:

په خيبر پښتونخوا کښې دَ فاټا د تاريخي انضمام نه پس، صوبه خپل دوئيم بجټ په ډېره خوشحالۍ وړاندې کوي. دا کتابچه دَ صوبې دَ عوامو دَ پوهې اؤ دَ هغوي په ژوند دَ مالي تخمينې دَ اثراتو اهميت په ساده اؤ اسانه ژبه وضاحت کوي. چې دَ صوبې عوامو ته په پوهېدو کښې اساني وي. چې دا دَ هغوي په ژوند څنګه اثر غورزوي. دا کتابچه دَ حکومت په مالي معاملاتو کښې دَ شفافيت راوستو کوشش سره سره دَ سرکاري مالي وسائيلو په حقيقت مبني انتظام اؤ مالي معاملاتو کښې دَ ذمه وارۍ اخستو دَ عزم عکاسي کوي.

# خبردارې:

دا دستاويز دَ صوبې صحيح اؤ تخمينه کړے شوے وصولي اؤ خرچې په شمول دَ صوبې ترجيحات وړاندې کوي. دَ مالي کال **2020-21** تخمينه شوې هندسې په اوسني، متوقع اؤ په وړاندينو ترجيحاتو اډانه دي. دَ نوي څيز اضافه، دَ راتلونکي وخت پېښې يا دَ نورو ترقياتي کارونو په وجه دې کښې بدلون کېدے شي.




**محمود خان**

**وزیر اعلیٰ خیبر پښتونخوا**

# دَ وزیر اعلیٰ خیبرپښتونخوا پیغام:

دَ خیبر پښتونخوا دَ مالي کال **2020-21** بجټ دَ صوبې دَ عوامو په شان دَ حوصلې بجټ دے. مونږ یو بې نظیره چیلنج سره مخ یو. یوې داسې عالمي وبا، چې په کښې زمونږ ځان اؤ روزګار دواړه په خطره کښې دي خو باوجود دَ دې مونږ لا دا دَ حقیقي تبدیلۍ راوستو یوه موقعه ګڼل پکار دي. په خپل سوچ اؤ طرز عمل کښې دَ تبدیلۍ راوستو دَ موقعې په طور. دَ دې تبدیلۍ لپاره به مونږ ته دَ مضبوطې ارادې اؤ په خپل ځان کښې دَ بدلون راوستو لپاره دَ تیارۍ ضرورت وي. دَ تبدیلۍ په دې سفر کښې حکومت دَ عوامو دَ رهنمایۍ لپاره پرعزم دے. زمونږ توجو دَ صحت په شعبه کښې بهترۍ، سجماجي تحفظ، اؤ په سر ګرزېدونکې کساد بازارۍ باوجود معاشي استحکام اؤ دَ رو ګار موقعې پیدا کولو باندې مرکوزه ده. هر څو کۀ مونږ له دې وبا سره په مبارزه کښې یو. خو باوجود دَ دې به هم مونږ دَ صوبې په بې پناه صلاحیت سرمایه کاري هېڅ کله هم نۀ هېروؤ. ځکه خو مونږ په دې کال کښې هم په ترقیاتي مد کښې هم دَ تېر کال هومره رقم مختص کړے دے اؤ زما ټیم به دا خبره یقیني کوي چې دَ سرکاري محکمو په طریقۀ کار کښې مثبت تبدیلي راولي. په خپلو صوابدیدي جارې اخراجاتو کښې دَ ډېر احتیاط سره داسې اقدامات هم کوؤ چې کومو سره به ډېر بچت وۀ شي. دې اقداماتو سره به مونږ ته دَ معاشي سطح زیاتولو اؤ ضروري خدماتو ته رسولو لپاره دَ وسائیلو مختص کولو کښې مدد په لاس راشي. دَ صوبې دَ مالي کال **2020-21** بجټ په مینځنۍ موده کښې دَ صوبې دَ مضبوطیا اؤ دَ زیاتې ودې په ترقۍ کښې دَ سرمایه کارۍ لپاره زمونږ دَ ارادې عکاس دے. زۀ اؤ زما ټیم به په خپل محنت دا صوبه دَ دې وبا دَ امتحان نه وباسو اؤ دَ اصلاحاتو دا سفر به جاري ساتو.



## دَ وزیر خزانه خیبر پښتونخوا  پیغام:

زۀ په دې ویاړ کوم چې دَ صوبې دَ درئیم اؤ دَ قبائلي اضلاع دَ انضمام نه پس دَ دوئیم بجټ دَ تیارۍ مشري کوم. هر څو کۀ Covid-19 زمونږ په ژوند باندې منفي اثر غورزولې دے. خو مونږ دا ځان کښې دَ بدلون راوستو یوه موقعه ګڼو دَ دې لپاره دا ضروري ده چې مونږ دَ دې وبا پوره مخ نیوې وکړو. اؤ دَ خپل طریقۀ کار جائزه هم واخلو اؤ هغې کښې تبدیلي راولو. مستقبل ته دَ کتو نه مخکښې مونږ له دَ تېر کال دَ کامیابو قدر هم پکار دے KPRA ریکارډ وصولي کړې ده. دَ بجلۍ دَ خالص آمدنۍ نوې لارې پرانستې شوې. مختلف میګا پراجکټونه دَ تکمیل په مرحله کښې دي اؤ مونږ دَ معاشي ترقۍ سره سره خپلو عوامو ته دَ بهترینو خدماتو په رسولو کښې هم قابل تعریف وړاندیز کړے دے.

خپل عوام دَ دې وبا نه دَ خلاصولو لپاره مونږ دَ صحت په شعبه کښې سرمایه کاري کوؤ. دَ سماجي بهبود پروګرام له وسعت ورکوؤ اؤ دَ ټیکس اؤ نان ټیکس اصلاحاتو په ذریعه دَ معیشت دَ استحکام اقدامات هم کوؤ.

مونږ په خپلو اخراجاتو کښې کمې کوؤ. په پنشن اؤ تنخوا ګانو کښې دَ تشویشناکې اضافې دَ مخ نیوې لپاره، خپل وخت، کوشش اؤ بهترین صلاحیتونه وقف کوؤ. په دې لړ کښې دُ ځینې موقعو نه دَ بچت حاصلولو دَ عمل نه تېرېږو اؤ دَ خپلو صوابدیدي جاري اخراجاتو قابو کولو لپاره هر ممکن احتیاط نه کار اخلو.

په جاري اخراجاتو کښې دَ متعلقه مشکلاتو باوجود مونږ دَ خپلې ښائسته صوبې اؤ دَ دې باهمته عوامو دَ ترقۍ په لار کښې دَ خپلو ټولو صلاحیتونو نه کار اخلو. زمونږ لار کښې به مشکلات وي خو بیا هم پر عزمه یو.

**تیمور سلیم خان**
**وزیر خزانه خیبر پښتونخوا**



# دَ سېکرټري خزانه پیغام:

شفافیت دَ ګډ ګورننس دَ ملا تیر دے اؤ دا به هله حاصلېږي چې دَ ټیکس ورکونکو دَ پیسې په استعمال دَ نګرانۍ بهتر انتظام موجود وي. دا کتابچه دَ خیبر پښتونخوا عوامو ته هم دغه معلومات ورکوي چې حکومت دَ هغوي په فلاح اؤ بهبود څنګه پیسه خرچ کوي. سر بالا په دې دا کتابچه دَ عوامي ترجیحاتو او ضروریاتو په بنیاد دَ حکومت دَ فېصلو باره کښې فائده مند معلومات لري.

زمونږ مقصد مالیات معاملات اسان ، جامع اؤ دَ پوهې وړ جوړول دي چې عوام دَ دې په ذریعه دَ خپل حکومت نه تپوس کولې شي.

دَ وبا باوجود دَ خپلې محبوبې صوبې دَ خوشحالۍ اؤترقۍ لپاره زمونږ حوصلې اوچتې دي اؤ دا بجټ دَ دې حقیقت ثبوت دے.

## عاطف رحمان

سېکرټري محکمه خزانه
خیبر پښتونخوا

# میزانِ مشتملات:


پہ بجټ پوهیدل 7

بجټ دَ کورونا پہ تناظر کښې 37

سیکټر وائیز ځلنده خبرې 49

دَ مالي کال 21-2020 اهم اړخونہ 13

حکومت تہ راپیښ دَ تنخواګانو اؤ پنشن پہ چیلنج پوهه. 43

دَ مالي کال 21-2020 مجوزه بجټ 55

# په بجټ پوهېدل

# حکومتي بجټ څۀ څیز دے.

وصول ټېکسونه | دَ حکومت فنډ | دَ حکومت دَ خدماتو استعداد




عوام حکومت ته ټېکس اؤ نور واجبات ادا کوي اؤ حکومت بیا هم دغه رقم دَ عوام په تعلیم، صحت، دَ روزګار موقعې، دَ صفا اوبو، دَ سړکونو تعمیر، دَ توانائي په منصوبو اؤ سرکاري ملازمینو په تنخوا ګانو خرڅ کوي چې حکومت سره دَ حکومت خدمات عوامو ته په رسولو کښې امداد کوي.

دَ پاکستان دَ سالانه بجټ میعاد دَ جولائي ته تر جون وي. دَ خېبر پښتونخوا سالانه بجټ دَ صوبې دَ معاشي صورت حال واضحه کولو سره سره دا وضاحت هم کوي چې حکومت به په دې دولسو میاشتو کښې څومره وصولي کوي اؤ دا امدن به دَ عوامو دَ ښېګړې لپاره څنګه اؤ چرته خرڅ کوي.

# بجټ: په امدن او خرڅ کښې دَ توازن عمل:

بجټ په امدن او خرڅ کښې دَ توازن ساتلو عمل دے. امدن په ټېکسونو او دَ محصولاتو په نورو وسیلو اداږه لري. حکومت چې دَ امدن خومره زیاتي وسیلي پیدا کولې شي، دومره به په خپلو ترجیحاتو دَ عمل کولو قابل وي او دا زمونږ لپاره ډېر اهم دي. لکه

- عوامو ته نیغ په نیغه دَ بهتر خدمت فراهمي
- معاشي ترقي
- دَ عوامي ښېګړي لپاره ترقیاتي منصوبې

کهٔ وسائل محدود وي نو یا خو به حکومت خپل خرڅ کموي او یا به په خپلو ترجیحاتو دَ عملي کولو لپاره قرض اخلي.



# دَ خېبر پښتونخوا حکومت خپل وسائل څنګه پېدا کوي؟

هر کال دَ خېبر پښتونخوا حکومت چې دَ کومو ذریعو نه خپل محصولات حاصلوي هغه دا دي.

| درجه | تفصیلات | | تناسب |
|---|---|---|---|
| | مرکزي محصولات | وفاقي محصولات دَ FBR په ذریعه راغونډ کړے شوي مجموعي قابل تقسیم ټېکسونو ته منتقل شوي حصه. | Rs Rs Rs Rs Rs Rs |
| | دَ وفاق نه دَ قدرتي وسائلو په مد کښې حاصل شوي حصه | هغه رقم چې دَ تېل اؤ قدرتي ګېس دَ رائیلټي اؤ سرچارج په مد کښې دَ وفاقي حکومت نه وصول شي | Rs |
| | دَ بجلۍ خالصه منافع | په پوره کال کښې دَ خېبر پښتونخوا دَ پېدا کړي بجلۍ منافع | Rs Rs |
| | صوبائي محصولات | دَ صوبائي محکمو دَ خدماتو صوبائي ټېکسونه دَ غېر منقوله جائېداد ټېکسونه اؤ دَ نورو ذریعو نه حاصل شوي محصولات | Rs Rs |
| | دَ صوبائي منصوبو لپاره غېرملکي امداد | په مختلو شعبو کښې دَ ترقیاتي منصوبو لپاره دَ دوست ملکونو امداد | Rs Rs Rs Rs |
| | قرضه جات | دَ حکومت له اړخه اخستې شوي مقامي قرضې (کۀ وي) یا نور بچت | Rs Rs |
| | وفاقي ګرانټونه | دَ ضم شوي ضلعو لپاره دَ وفاقي حکومت ورکړي شوي ګرانټونه | Rs Rs Rs Rs Rs |

# دَ پيسو دَ خرڅ ځايونه

## جاري اخراجات

### تنخواه:

دَ اخراجاتو اکثره حصه په تنخواه ګانو مشتمله ده اؤ دا هر کال زياتيږي.

### نان سيلري:

دَ محکمو دَ معمول امورو دَ چلولو اؤ دَ سرکاري اثاثو دَ حفاظت لپاره خرڅ شوے رقم

### پنشن:

په سرکاري اخراجاتو کښې په دريم نمبر دَ پنشن اخراجات راځي .چې دَ کمولو لپاره ئې اصلاحات کولې شي.

## ترقياتي اخراجات

- په ټولو محکمو کښې دَ نوؤ منصوبو اؤ سکيمونو لپاره مختص رقم.
- دا رقم په صوبائي اؤ ضلعي سطح خرڅ کيږي ( په دې کښې **30%** دَ لوکل باډيز اؤ دَ مقامي حکومت په ذريعه دَ ضلعي اے. ډي .پي لپاره مختص شوے رقم )
- عام طور دَ حکومت دَ روزمره اخراجاتو نه بچ شوے رقم.
- چونکه دا دَ عوامو په زندګۍ کښې دَ ښۀ والي راوستو مختص رقم وي. دې لپاره دَ حکومت دا کوشش وي چې په دې مد کښې زيات نه زيات رقم کېښودلې شي.

# ایا صرف ترقیاتي بجټ ضروري دے؟

عام طور دَ بجټ په بحث کښې ترقیاتي اخراجات بنۀ ، اؤ جاري اخراجات غیر ضروري ګڼلې شي خو دا همېشه ټهیک نۀ وي دَ اخراجاتو په واړو قسمونو (سېلري، نان سېلرې اؤ ترقیاتي) کښې داسې مثالونه شته چې دَ حکومت دَ ذمه وارو لپاره انتهائي اهم وي.

| | | دَ خدمت په ورکولو کښې اهم | انتظامي خرچې |
|---|---|---|---|
| جاري اخراجات | سېلري | په داسې عمله خرچه چې دَ خدمت ورکولو کښې لاس کوي لکه استاذ، ډاکټر، پولیس، میونسپل اؤ ریسکیو عمله | په معاون اؤ اتنظامي عملې خرچه چې نېغ په نېغه دَ عوامو په خدمت کولو اثر غورزوي. |
| | نان سېلري | دَ سروس دَ مراکزو لکه هسپتال، سکول سړکونه په چلولو اؤ حفاظت خرچه | TA، بجلي ستېشنري اؤ انټرټېنمنټ باندې خرچه. |
| ترقیاتي اخراجات | | هغه خرچه چې دَ عام وګړي په ژوند کښې بهتري راولي لکه نوي سکولونه، هسپتالونه، سړکونه وغېره جوړول. | HR پراجیکټس اؤ دَ دفترو په تزئین اؤ ارائش باندې خرچې. |

# دَ مالي کال 20-2019 اهمې کړې

## زموږ محنت رنګ راوړي. KPRA دَ کورونا باوجود په خپلو محصولاتو کښې ریکارډ اضافه کړې ده.

رقم په اربونو کښې (جون **2019** نه تر مئ **2020**)




Source: KPRA forecast document June 2020

## KPRA په خپلو محصولاتو کښې ریکارډ اضافه وکړه اؤ دَ لاک ډاؤن په دوران کښې ئې هم خپله کارکردګي متاثره کېدو ته پرې نهٔ ښوده.

دَ KPRA محصولات رقم په اربونو کښې

### دَ اضافي اهم وجوهات


**دَ ټیکس دائره زیاتول**

په سیلز ټیکس کښې دَ رضاکارانه وصولۍ لپاره دَ ټیکس صلیب ریټس کمول لکه 2%، 8% او 10%

**دَ ټیکس اداکولو طریقه اسانول**

27 ټیکسونه کم کړي شو اؤ په 83 کښې صرف 49 دَ 10% په ریټ باندې وساتلي شول.

### (دَ جولائي 2019 نه ترمې 2020)





Source: KPRA forecast document June 2020

## عام طور صوبي دَ ترقياتي بجټ دَ **30%** نه تر **40%** دَ مالي کال اخري **3** مياشتو کښي خرچ کوي خو خېبر پښتونخوا دَ پوره کال په دوران په توازن سره خرچ کړے دے.


### دَ **ADP** فنډ استعمال په اربونو کښي

- Monthly Spend 2018-19
- Monthly Spend 2019-20


**Cash Flow Balance Constraints**





**Impact of new ADP/release policy**




**Lock-down due to COVID-19**




**All available funds diverted towards development**





*June 2019-20 is maximum projection

## دَ کلیز ترقیاتي پروګرام دَ بهترۍ لپاره نوې پالیسي منظوره شوه چې دَ 2019 نه به 2023 پورې لاګو ګڼلې شي.

دَ **ADP( 2019–2020)** پالیسۍ ځلنده خصوصیات:

- یو عوامي نمائنده به هم **ADP** کښې دَ صوابدیدي فنډ مطالبه نهٔ کوي.
- په امبرېله اؤ بلاک ډېولپمنټ سکیمونو کښې دَ اهم ډائیریکټیوز په ذریعه دَ فنډز دَ مختص کولو روایت به فوري طور ختمولې شي.
- دَ ترقیاتي فنډز منصفانه تقسیم به د ضلعې ترقیاتي پروګرام اؤ علاقائي منصوبه بندۍ باندې منحصر وي چې په جغرافائي لحاظ او زیاته نا زیاته فائده حاصلولو په غرض مناسب تقسیم ممکن شي.
- **ADP** به دَ مختلفو کلونو دَ ضرورت په اساس جوړولې شي.
- په اخراجاتو کښې به دَ خدماتو فراهم کولو شعبو اؤ دَ هغې په متعلقه عمله اخراجاتو ته ترجیح ورکولې شي.

# دَ نوې نوکرو دَ منظورۍ په عمل کښې مونږ تبديلي راوسته اؤ دا مو دَ خدماتو ورکولو افرادي قوت سره وتړله.



سخکال دا لاندې ليک اقدامات وکړې شو

1. په محکمو کښې دَ نوؤ اساميانو منظورۍ لپاره هرې محکمې سره هفته وار اجلاسونه وشول .
2. دَ محکمو نه چې دَ کومو نوؤ اساميانو لپاره ډيمانډونه راغلي وو دَ هغې دَ پړتال نه پس دَ سروس ډيلېورې متعلق اسامياتو ته ترجيح ورکړې شوه.

په دې نتيجه کښې دَ **13000** ( ديارلس زرو) دَ خدماتو ورکولو سره متعلقه اساميانو منظوري ورکړې شوه چې په هغې کښې استاذان، طبي عمله، لوکل حکومت اؤ دَ کرکيلې عمله شامله ده. اؤ دَ غير ضروري اساميو دَ ختمولو سره مونږ ته دَ **10** اربه روپو بچت وشۀ.

# دَ خیبر پښتونخوا حکومت په څو شعبو کښې میګاپراجیکټونه شروع کړې دي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| **247 میګاواټ**<br>په 7.3 ارب روپو په خرڅ<br>د ضم شوې ضلعو لوډ<br>کیپسټي کښې اضافه | **57 میګاواټ**<br>دَ HPP پراجیکټس په<br>ذریعه په پیداوارې اؤ<br>ترسیلي نظام کښې اضافه | **200+**<br>څۀ د پاسه 200 کلو ته<br>نوې توانائي رسول | **رشکۍ SEZ**<br>په صوبه کښې دَ CPEC<br>دَ یوجز په طور دَ بورډ<br>منظورۍ نه وروستے SEZ |
| **سوات موټروے**<br>دَ ورو ګاډو دَ ټګ لپاره<br>پرانستې شوه | **دَ +28،000**<br>طالبعلمانو پیشه ورانه تربیت | **دَ پینځه ویشتو**<br>نوې صنعتونو قیام | **13**<br>دَ 13 درشل پراجکټونو<br>باندې دَ کاروبار اغاز |
| **500 ملینه**<br>په SIDB کښې دَ ورو<br>صنعتونو دَ قیام لپاره | **ویب بیسډ سسټم**<br>په خیبر پښتونخوا کښې دَ ګاډو<br>دَ فټنس، روټ پرمټ اؤ دَ<br>ډرائیونګ لائیسنس دَ اجراء لپاره | **105 ارب**<br>په اپټک فائبر کښې دَ<br>سرمایه کارۍ لپاره | په 21 ضم شده ضلعو<br>کښې دَ ریسکیو 1122<br>اسټیشنز قیام |

## دَ صحت انصاف کارډ په ذریعه به دَ هر خاندان یونیورسل هیلتھ انشورنس ته رسائي یقیني کولې شي.

| | دَ 2019-2020 کامیابي | 2020-2021 هدفونه |
|---|---|---|
| دَ خاندانونو تعداد چې انصاف کارډ لري | ● په **Settled** ضلعو کښې **22** لاکھ<br>● قبائیلي ضلعو کښې **11** لاکھ | ● په **Settled** ضلعو کښې **60** لاکھ **60** هزار<br>● قبائیلي ضلعې مکمل کښې نه پوره شوې دي |
| خرڅ شوې رقم | **3.4** ارب روپۍ | **10** ارب روپۍ |
| ورکړې شوې خدمات | بنیادي اؤ ثانوي هیلتھ کیئر | بنیادي اؤ ثانوي هیلتھ کیئر |
| دَ یو خاندان په سر رقم | **6**لکھه روپۍ | **10** لکھه روپۍ |

## سوات ایکسپریس وے دَ وړوکاډو لپاره پرانستې شوه چې دَ سفر دورانیه ورسره دَ 2 ګهنټو نه 45 مینټه شوه.



### فائدې

- دَ سفر دورانیه دَ 2 ګهنټو نه 45 مینټه شوه
- 10 زره کسان په روزګار شو
- دَ سپلګرۍ ځایونو لکه مالم جبه، کالام او سوات ته رسائي اسانه شوه
- دَ شمالي علاقو زمیدارو نه دَ فارم ته تر منډۍ اسانه رسائي ممکنه شوه

سوات ایکسپریس وے د 36 اربو روپو په لګښت جوړه شوې دَ صوبې اولنۍ موټروے ده. چې دَ M-I نه تر چکدرې څلور لائینونه او 81 کلو میټره ده

# دَ نوؤ سیاحتي مقاماتو اؤ بهتر انفراسټرکچر په وجه به دَ سیلګرو تعداد زیات شي

## اقدامات:

دَ خلورو **Integrated Tourism Zones** قیام.
ایبټ اباد، مانسهره ، سوات ، چترال

په نوؤ سیاحتي مقاماتو دَ انفراسټرکچر دَ بنۀ کولو
لپاره لوئي سکیمونه.

دَ سیلګرو دَ رهنمائۍ اؤ امداد لپاره دَ ټورزم پولیس قیام.

دَ ټورزم اتهارټۍ قیام.

## فائدې:

**20-2019** کښې **20** لکهه
سیلګري راغلل



# په سکولونوکښې دَ بهتر سهولیاتو اؤ معیاري تعلیم په وجه اوس زیات بچي سکولونو ته ځي.

## اوس زیات بچي سکولونو ته ځي

په ابادۍ کښې دَ زیات والي باوجود سکول ته دَ نۀ تلونکو بچو په تعداد کښې 5 لکهو پورې کمے راغلے دے.

## دَ ښۀ اؤ معیاري تعلیم دَ حصول لپاره

- دَ استاذانو اؤ هلکانو حاضري په ترتیب سره 92٪، اؤ 82 شوه. چې تر اوسه دَ ټولو نه بهتره شرحه ده.
- دَ پنځم اؤ اتم کلاس په اوسط سکور کښې دَ ورم کال په مقابله کښې 11٪ بهتري راغله.
- په 13000 سکولونو کښې دَ خواندګۍ اؤ ریاضۍ دَ بهتر کولو مهم اغاز وکړې شو.

## په هغه سکولونو کښې چې دَ مخکښې نه ښۀ دي.

- 99٪ سکولونو اوس مکمل طور فعال دي.
- په 75٪ سکولونو کښې بنیادي سهولتونه میسر دي. چې په تېرو 5 کالو 50٪ بهتري ظاهروي.
- 22 زره نوي استاذان بهرتي کړي شوي دي.

# دَ دي کال تراخره به دَ ریسکیو 1122 خدمات دَ خیبر پښتونخوا په تماموضلعوکښې میسروي.




| دَتکمیل په مرحله کښې | فعال | |
|---|---|---|
| 9 | 26 | ضلعې |
| 24 | 72 | اسټېشنز |
| 22 | 122 | ایمبولینس |
| 440 | 1216 | دَ عملې تعداد |

نوي ضم شوي ضلعي زمونږ اولنے ترجیح دے . اؤ مونږ هر هغه ځائےکښې دَ سروس ډیلیوري
سره متعلق سهولتونو فراهم کولو کوششونه تیز کړي دي چرته چې دا سهولتونه وړاندې نهٔ وو.

## پارلیماني انتخابات:

- په جنرل نشستونو باندې په اول ځل انتخابات وکړې شو
- پهاول ځل دَقبائیلولپارهدَخپلونمائندهګانودَمنتخب کولواؤدَ صوبې سره دَسیاسي انضمام دَ تکمیل موقعه مېلاؤشوه


## دَ خدماتو دَ فراهمیِ دَ متعلقه اسامیانو منظوري

- ویلج اؤ نیبر هوډ کونسلرز 1،404 اسامیانې
- مراکز صحت 1,297 اسامیانې
- سکولونه / تعلیمي مرکزونه 4,467 اسامیانې

## دَ امن عامه بهتري

- 26,000 لیوي اؤ خاصه دارو په پولیس کښې شمولیت
- په قبائلي ضلعو کښې دَ ضروري سیکورټي فراهمي ممکنه کړې شوې ده

## تورخم باړر 24/7 پرانستې شو چې په نتیجه کښې دَ ټریفک سره سره په برامداتو اؤ محصولاتو کښې هم اضافه وشوه



**24/7**
تورخم باړر اپریشن

- په برامداتو کښې اضافه **27** ارب روپۍ
- په برامداتو لګیدلې ډیوټۍ اؤ دَ ټیکس په مد کښې اضافه **3.5** ارب روپۍ
- دَ تجارت سره متعلقه د ټرکونو تعداد کښې اضافه **28,000**


دَ اعداد وشمار دَ درې میاشتو ډېټا ده چې پکښې دَ **Covid-19** اثر هم شامل دے.

# رشکئِ اکنامک زون

دَ فارما سیوټیکل، ټیکسټائل، سټیل او نورو صنعتونو لپاره 1000 ایکړه رقبه

12.1 ارب اندروني او بیروني سرمایه کاري

2 لکهه بالواسطه او بلا واسطه دَ روزګار مواقع



دَ CPEC په مغربي روټ او سوات ایکسپریس وے سره نزدې په M-I باندې مرکزي لوکېشن

سخکال زون دَرسایي لپاره 50% پورې دَسړکونو تعمیر او 100% رقم مختص شوې دے

دَ رشکئِ دَ اسپېشل اکنامک زون SEZ ترقیاتي معاهدې منظوري دَ وزیر اعظم په صدارت کښې بورډ اف انویسټمنټ په 4 مارچ 2020 ورکړه

# دَ پیهور Wheeling معاهده



دَ پیهور هائیډرو پاور Wheeling معاهده

دَ Wheeling نه مراد دَ پاور پلانټ
دَ دریمې پارټۍ په انفراسټرکچر صارفینو
ته دَ بجلې رسول دي

صوبائي خزانې ته دَ 15 کروړو امدن


دَ پاکستان دَ تاریخ اولنے انرجي
Wheeling ماډل

صنعتي ترقۍ کښې دَ مقابلې فضا جوړولو لپاره
صنعتي صارفینو ته په کم نرخ بجلي ورکول

## په قبائيلي ضلعو کښې دَ انصاف روزګار سکيم لاندې ځوانانو ته بې سوده قرضې ورکول اؤ دَ کاروبار اؤ روزګار موقعې پيدا کول.

دَ انصاف روزګار سکيم لاندې په ماهانه بنياد بې سوده قرضو په عدم کښې دَ رقم ادائيګې




اوسطاً هر اميدوار ته دَ 2 لکهو پورې روپۍ ورکړې شوې

اوبهٔ دَ خيبر پښتونخوا په وسائيلو کښې بنيادي حېثيت لري،

ځکه خو دَ بجلۍ خالصه منافع دَ صوبې دَ مالي وسائيلو

اهم اؤ خاص جز دے

# دَ بجلۍ خالصه منافع دَ 1973 دَ ائين لاندې ورکولې شي

دَ ائينِ پاکستان دَ ارټيکل 161 (2) مطابق

" وفاقي حکومت يا يوه داسې اداره چې وفاقي حکومت جوړه کړې وي، يا دَ هغې دَ انتظام لاندې وي. دَ يو بجلي ګهر نه دَ بجلۍ دَ تهوک په مقدار ګټلې اصل منافع به هغه صوبې له ورکوي په کومه صوبه کښې چې دغه بجلي ګهر جوړ وي"

## په خیبر پښتونخوا کښې جوړ بجلي ګهرونه پاکستان لپاره دَ سالانه توانایۍ 19.211 اربه یونټونه پیدا کوي.

| دَ خشاک قسم | لګښت في یونټ(روپۍ) | په توانائۍ کښې حصه | پیدا کړے شوي یونټ(میلین) |
|---|---|---|---|
| تېل | 12.03 | 0.95% | 1,291 |
| RLNG | 9.60 | 26.83% | 36,473 |
| کوئله(درامدي) | 9.02 | 15.88% | 21,588 |
| کوئله (مقامي) | 8.59 | 4.81% | 6,539 |
| قدرتي ګېس | 6.67 | 10.52% | 14,301 |
| قابل تجدید | 5.77 | 3.17% | 4,309 |
| اوبهٔ | 3.28 | 30.53% | 41,503 |

**دَ بجلۍ 50% خیبرپښتونخوا کښې پیدا کېږي**

SOURCE: PPP Forecast by CPPA FY2019-20
COST OF ELECTRICITY GENERATION IN PAKISTAN – COMPARISON OF LCOE OF CPEC COAL PLANTS WITH O&G BASED PLANTS COMMISSIONED IN 2010-14*WORKING PAPER NO. 02-19 by IDEAS
Nuclear and Bagasse are not included

## دَ بجلۍ خالصه منافع / رائلټي ادائيګي په نورو ملکونو کښي دَ داسي ادائيګو سره مطابقت خوري

په بجلۍ رائيلټي په تمامه دنيا کښي وصولولي شي




# دَ بجلۍ خالصه منافع خیبر پښتونخوا صوبې ته دَ بقایاجاتو مطابق نه ده ادا کړې شوې

| دَ بجلۍ خالصه منافع | مالي کال کښې تخمینه شوې بجټ(اربونو کښې) | هغه رقم چې دَ مالي کال په دوران کښې وصول شو (اربونو کښې) |
|---|---|---|
| NHP 2016-17 | 33.7 | 21.8 |
| NHP 2017-18 | 35.8 | 41.5 |
| NHP 2018-19 | 65.3 | 20 |
| NHP 2019-20 | 55.7 | 14.5 |

# دَ بجلۍ دَ خالصې منافعې غیر مستقل ادائیګي دَ ترقیاتي اخراجاتو صحیح مالیاتي منصوبه بندۍ کښې لوئے خنډ دے.

دَ بجلۍ دَ خالصې منافعې په بجټ کښې حصه (په اربونو کښې)




دَ بجلۍ خالصه منافع دَ
صوبې دَ ترقیاتي بجټ
50% اؤ انتهائي اهمه ده

# دَ COVID-19 په بجټ اثرات

## COVID-19 دَ دنيا دَ ګڼو ملکونو په شان پاکستان هم ډېر زيات متاثره کړو.
## دَدې پۀ نتيجه کښې په مارچ 2020 کښې عالمي معاشي بحران راپېدا شۀ

" په امريکه کښې دَ بېروزګارۍ دَ الاؤنس بلونو تعداد دَ **4** کروړ نه تجاوز وۀ کړۀ"

" برطانيه کښې دَ معيشت **25%** دَ کورونا لۀ وجې متاثر شۀ "

" دَ **IMF** دَ وينا مطابق دَ **Covid** مقابله کښې **10** کهرب ډالر وۀ لګېدل اؤ دَ نورو ضرورت هم دے"

"**Covid-19** لۀ وجې جنوبي ايشيا کښې لکونه خلق دَ غربت سره مخ کېږي"

### اثر!!


پۀ معاشي سرګرميو کښې کمے، دَ ډيمانډ کمے، دَ افراطِ زر کمے، ټيکس محصولات کښې کمے اؤ دَ برآمداتو کمي لۀ وجې پاکستان ته اندازةً کم و بيش 2.5 کهرب روپۍ نقصان وۀ رسېدۀ.

# دَ کمزور معیشت پهٔ دور کښې بجټ جوړول


Covid-19 دَ پاکستان سره سره دَ کلهمې دنیا دَ معیشت ترقۍ کښې دَ کمزورۍ وجه وهٔ ګرځېده. دَ معاشي بحران پهٔ دې دور کښې مونږ دَ حکومت دَ کردار نه ځومره خبر یو؟

دَ معیشت بحران به څنګه لیدلے شي؟





دَ حکومت پهٔ خرچو اؤ صوابدید کښې کمے راوستل



دَ ترقۍ سکیمونو اؤ دَ سروس ډیلوري خرچې زیاتېدل یا کمېدو ته نهٔ ورکول




پهٔ ټېکس کښې دَ ریلیف اقداماتو سره معیشت کښې تېزي راوستل

# 19 دَ مقامي اؤ قبائلي ضلعو، دوارو فنډنګ تر ډېره حده متاثر کړے دے.

## دَ خیبر پښتونخوا دَ محصولاتو تخمینه*


(دَ FDA اؤ قبائلي ضلعو نه علاوه)

2020-19 په اربونو کښې




دَ قبائلي ضلعو دَ محصولاتو تخمینه.

2019-20 (ارب روپو کښې)





محصولاتو کښې ټول فېډرل ټرانسفرز (504.6 ارب) صوبائي محصولات (45.4 ارب) دَ دې نه بعد 10 ارب روپۍ کټوتي دَ قبائلي ضلعو شامله ده.

# ....... دَ دې بنيادي وجه دَ محصولاتو سخت کمے دے.......


دَ محصولاتو بجټ اؤ دَ کتلي شوې تخمينې موازنه

2019–20 (په اربونو کښې)



## اٰمدن کښې دَ کمي باوجود زمونږ لاس کښې دَ فنډ استعمالولو سره ترقیاتي خرچې مونږ سیوا کړې.


دَ اخراجاتو تفصیل ( په اربونو کښې)




1 Approximations, final numbers will be shown on completion of year
2 Excluding subsidy, investment and committed contribution, interest payments and grants to the local council

دَ پينشن تنخواګانو دَ زياتوالي په مد کښې
حکومت ته دَ راپيښ چيلنج پوهه.

## حکومت چې کوم لګښت په ځان نه کوي هغه په تاسو کوي.



دَ بجټ دارومدار په سمجوته کولو باندې وي او يو ښه ليډرشپ ته ګراني فېصلې کول وي.


تنخواګانې او پينشن نه اوچتول يوه ګرانه فېصله وي، ليکن په مشکل وخت کښې دا فېصله صحيح وي.

دَ کتابچې دا حصه دَ حکومت مسلسل زياتېدونکي سائز او دَ **Unfunded** پينشن نظام بيانوي، دوه هغه مسئلې چې خيبرپښتونخوا حکومت پرې په تيزۍسره کارکوي.

## دَ تنخواګانو اؤ پینشن پۀ مد کښې دَ حکومت اخراجات تېرو شوېو 10کلونو کښې 450 فیصد زیات شو. دَ ټول بجټ 40 فیصد برخه پۀ تنخواګانو اؤ پینشن لګي.

**دَ تنخوا ګانو اؤ پنشن دَ اخراجاتو موازنه 2010 – 2020**

**دَ Settled ضلعو په اربونو کښې**




## حکومتي بجټ به دَ کار کوونکیو ټولو افرادو خیال ساتي . دَ ټولو کارکوونکیو خلقو صرف 8 فیصده سرکاري ملازمین دي.

**533,763** افراد پهٔ سرکاري محکمو کښې کار کوي

دَ دوي شرح دَ ټول کار کوونکیو افرادو **7.4**

فیصد ده اؤ بجټ **412** ارب روپۍ دے



**6,634,091** افراد

پرائیوټ سیکټر کښې کار کوي


دَ دوي شرح دَ ټولو کار کوونکیو افرادو **92.6**

فیصد ده اؤ بجټ **318** ارب روپۍ دے

# سرکاري ملازمت جاذِب وي ولې دَ دې د پاره ډېره خواري کول غواړي


دَ منظور شويو اسامیانو اؤ تنخواګانو دَ لګښت موازنه 2020–2010

اسامیانې پۀ عدونو کښې اؤ خرچې پۀ اربونو روپو کښې ښکاره کړې شوې دي.




# دَ مشکلاتو باوجود دَ سرکاري ملازمینو تنخواه دَ مارکیټ په مقابله کښې بهتره ده

دَ سرکار له خوا اؤ دَ مارکیټ له خوا ورکونکې تنخواه موازنه
په پاکستانو روپو کښې




# دَ سرکاري سټاف ترتیب اؤ ورسره تړلي اخراجات

## دَ ګرېډ مطابق منظور شوؤ اسامو تفصیل اؤ دَ هغوي دَ تنخواه اخراجات (غېر قبائیلي ضلعو کښې)



## په تیرو پنځلسو کالو کښې دَ پینشن په مد کښې اخراجات دَ ټول بجټ دَ 1% نه 15% پورې زیات شو

پینشن اخراجات - اصل ( په اربونو کښې)




**80 چنده اضافه**

**2003-04** تر اوسه دَ پینشن اخراجات دَ سالم بجټ دَ **1** فیصد نه تر **15.7** فیصده پورې زیات شو


| | 2003-04 | 2019-20 |
|---|---|---|
| Estimated Receipts | 77.24 | 440 [1] |
| Pension as % of Budget | 1.13% | 15.7% |

1 Estimated receipts - Excluding FATA and FPA

**Source: Finance Department**

## کهٔ دا رجحان برقرار وي نو دَ 2023 پورې به دَ پينشن اخراجات 127 ارب روپۍ (دَ بجټ 20 فيصد) اؤ 2030 پورې 507 ارب روپۍ ( دَ بجټ 45 فيصد) ته ورسي


**2030** پورې په پينشن دَ راتلونکو اخراجاتو تخمينه (په اربونو کښې)




Source: Finance Department

هر څو کۀ دا مشکله فیصله ده خو دَ تنخوا اؤ پینشن دَ منجمد کولو سره به **41** ارب روپۍ بچت شي چې په نتیجه کښې به ئې دَ صحت شعبه کښې اؤ په خصوصي توګه دَ **COVID** سره دَ مقابلې لپاره به دَ فنډ فراهمي یقیني شي

(په اربونو کښې)



# دَ مالي کال 2020-21 لپاره

# تجویز شوے بجټ

# لوي لوي سرخې

| | |
|---|---|
| **سالم اخراجات** | **923.0 ارب روپۍ** |
| • بندوبستي ضلعې | 739.1 ارب روپۍ |
| • ضم شوي ضلعې | 183.9 ارب روپۍ |
| **جاري اخراجات** | **605.2 ارب روپۍ** |
| • بندوبستي اضلاع | 517.2 ارب روپۍ |
| • ضم شوي ضلعې | 88.0 ارب روپۍ |
| **ترقياتي اخراجات** | **317.8 ارب روپۍ** |
| • بندوبستي ضلعې | 221.9 ارب روپۍ |
| • ضم شوي ضلعې | 95.9 ارب روپۍ |

# دَ اخراجاتو تفصيل


| | |
|---|---|
| **بندوبستي ضلعي** | |
| تنخواه | 274.3 ارب روپۍ |
| پينشن | 86.0 ارب روپۍ |
| نان سېلري( O&M, Contingencies ډسټرکټ نان سېلري | 103.9 ارب روپۍ |
| نور اخراجات | 52.9 ارب روپۍ |
| صوبائي ADP | 104.0 ارب روپۍ |
| ډسټرکټ ADP | 44.6 ارب روپۍ |
| بيروني ترقياتي امداد | 73.4 ارب روپۍ |
| ټول اخراجات | **739.1** ارب روپۍ |
| **ضم شوي ضلعي** | |
| تنخواه | 52.0 ارب روپۍ |
| نان سېلري | 36.0 ارب روپۍ |
| صوبائي ADP | 24.0 ارب روپۍ |
| ډسټرکټ ADP | 10.2 ارب روپۍ |
| AIP | 49.0 ارب روپۍ |
| بيروني ترقياتي امداد | 12.7 ارب روپۍ |
| ټول اخراجات | **183.9** ارب روپۍ |

# امدن / محصولات

| | |
|---|---|
| دَ وفاق نه دَ ټېکس په مد کښې محصولات | 404.8 ارب روپې |
| دَ دهشت ګردۍ خلاف جنګ کښې دَ تقسمېدو وسائل نه دَ صوبې 1فیصد حصه | 48.6 ارب روپې |
| دَ تیلو اؤ دَ ګېس رائیلټي اؤ سرچارج حصه | 24.1 ارب روپې |
| دَ MoU 2015-16 مطابق دَ بجلۍ خالص منافع بشمول بقایاجات | 58.3 ارب روپې |
| صوبائي ټیکس اؤ نان ټیکس محاصل | 49.2 ارب روپې |
| دَ صوبائي منصوبو لپاره بیروني امداد/ FPA( بندوبستي ضلعې) | 73.4 ارب روپې |
| دَ صوبائي منصوبو لپاره بیروني امداد/FPA (ضم شوې ضلعې) | 12.7 ارب روپې |
| دَ ضم شوې ضلعو لپاره ګرانټونه | 161.0 ارب روپې |
| نور محصولات | 91 ارب روپې |
| ټول محصولات | **923** ارب روپې |

## دَ خیبر پښتونخوا دَ مالي کال 21–2020 په بجټ کښې په ترقیاتي منصوبو خرچ. په بندوبستي اؤ ضم شوې ضلعو کښې دَ صحت اؤ تعلیم لپاره دَ مناسب فنډ مختص کول زمونږ دَ ارادو غماز دے.

دَ خیبر پښتونخوا دَ 21–2020 بجټ تفصیل (په اربونو کښې)



دَ مشکلاتو باوجود مونږ دَ خیبر پښتونخوا صوبه دَ بحالۍ په لاره دَ بوتلو لپاره غیر ضروري اخراجاتو کښې کمې راولو او رقم به هغلته خرڅ کوؤ چرته چې ضرورت زیات وي.

## دَ حکومتي اخراجاتو متعلق اقدامات

- دَ ټریننګ او انټرټینمنټ لپاره رقم نهٔ دې مختص شوے
- دَ غیر ضروري خدماتو لپاره کم رقم مختص کړے شوے دے
- صرف دَ ضروري خدماتو لپاره بهرتۍاؤ دَ اثاثو دَ خرید په مد کښې دَ فنډ تخصیص
- په تنخواه اؤ پینشن کښې هیڅ اضافه ونهٔ کړې شوه

## دَ سماجي تحفظ منصوبه

- دَ روزګار موقعې پیدا کولو اؤ وړو اؤ درمیاني درجې کاروبارونو کښې دَ لاس کولو په غرض دَ معاشي بحالۍ پیکج
- احساس پروګرام لپاره **113** ارب روپۍ مختص

## دَ صحت عامه منصوبه

- **Lcum** سکیم لاندې دَ صحت نظام کښې فراخي راوستې شي
- دَ صحت په شعبو کښې کارکنانو ته دَ خصوصي مراعاتو پیکج
- دَ بیمارو نه بچاؤ، ټیسټنګ ، تشخیص دَ **COVID**دَ مریضانو علاج اؤ په امدادي کاروائیو خصوص توجو ورکولې شي

## معیشت ته اوږې ورکولو منصوبه

- داسې شعبې اؤ کسبونه چې دَ بازار دَ پرېوتو نه ورته خطره وي هغو لپاره په ټېکس کښې مراعات
- په خدماتو ټېکس اؤ اربن غیر متحرک پراپرټي ټېکس کم کړے شوے دې
- دَ کچې نه تر دولسم جماعت اؤ دَ اعلیٰ تعلیم په داخله فیسونو کښې رعایت

## دَ خیبر پښتونخوا دَ معیشت په اهمو شعبو کښې دَ ترقۍ دَ عمل دَ اغاز په غرض په ټیکس کښې رعایت اؤ تعلیمي مراعات به ورکولې شي.

| | | |
|---|---|---|
| اهم ټیکس اصلاحات | په خدماتو ټیکس | • دَ خدماتو دَ ټیکس په 27 درجو کښې کمے راوستې شي |
| | دَ هاسپټلټي اؤ انټرټینمنټ په ټیکسونو کښې کمے | • دَ انټرټینمنټ اؤ هوټل ټیکس به ختمولې شي • مقامي نان کارپوریټ ریسټورانونو Chain ته به دَ Point of Sale سافټ وئیر په استعمال ټیکس کښې به رعایت ورکړلے شي |
| | په پروفیشنل ټیکس کښې رعایت | • پروفیشنل ټیکس به مرحله وار KPRA ته حواله کېږي اؤ په دې کښې به 18 کسبونو نه زیات بشمول ډاکټران، وکیلان اؤ ریټیلرز ته رعایتونه اؤ ټیکس بریکس ورکولې شي. |
| | اربن ایموبل پراپرټي ټیکس | • اربن ایموبل پراپرټي ټیکس به مناسب سطحې ته راکوزولے شي. • باقاعدګۍ سره ټیکس جمع کولو والا ته 25% پورې ریبیټ ورکولے شي • دَ بقایاجاتو په وصولۍ کښې دَ اسانۍ اغاز. |
| | دَ تعمیر په شعبو کښې رعایت | • بورډ اف ریونیو به کیپیټل ویلیو ټیکس اؤ سټیمپ ډیوټي دواړو کښې کمے کوي. |
| اهم نان ټیکس اصلاحات | K-12 تعلیمي رعایتونه | • طلباء اؤ طالباتو ته په سرکاري پرائمري اؤ هائي سکولونو کښې مفت داخله<br>• په پروفیشنل ارټ کالجونو کښې مفت داخله |
| | په اعلیٰ تعلیم کښې رعایتونه | • اعلیٰ تعلیم، ارکائیوز اؤ لائبریرو سره تړلې اکثر فیسونه به ختمولې شي |

# کاروبار دوست ټېکس بجټ (½)

ټېکس
اصلاحات
اؤ دَ ریلیف
پیکج

دَ KPRA په محصولاتو کښې کال په کال 81% اضافه اؤ COVID باوجود به سخکال دَ کال ختمېدو پورې 17 اربو نه زیات وصولي کېږي

دَ COVID نه وړاندې په صوبائي محصولاتو کښې 38% پورې اضافه اؤ دَ COVID نه بعد دَ کال ختمېدو پورې به 20% اضافه بیا هم وصول شي

دَ 21-2020 بجټ ټېکس فري بجټ دے

دَ لوکل ګورنمنټ له طرفه لګ بهګ 200 وړو کاربونو باندې دَ ټېکس خاتمه ایکسائز محکمه دَ دوچند ټېکسونو خاتمه کوي.

- په هوټلونو زیرو بېډ ټېکس
- دَ KPRA سره دَ رجسټرېشن په شرط 18 قسمه پېشو باندې دَ پروفېشنل ټېکس خاتمه
- دَ طب اؤ ورسره تړلې خدماتو باندې زیرو پروفېشنل ټېکس
- انټرټېنمنټ ټېکس مستقل ختمولے شي


# کاروبار دوست ټېکس بجټ (2/2)

**ټېکس اصلاحات اؤ دَ ریلیف پیکج**

- دَ ګاډو دوباره رجسټرېشن به مفت وي اؤ په دې به دَ متعلقه صوبې نه هېڅ قسمه **NOC** نۀ وي پکار.
- دَ **UIPT**، **Location factors** ته به کتلې شي. رضاکارانه توګه باندې ټېکس جمع کونکيو د پاره نور هم 35 فې صد رعایت
- خدماتو باندې دَ ټېکس **35** درجې ښکاره کمے
- **Digitization** دَ حوصله افزائۍ دپاره هغه رېسټورنټس چې **POS** سسټم استعمالوي هغوي ته ټېکس کښې نور هم **5%** رعایت ورکولے شي
- دَ وزیراعظم دَ پروګرام مطابق دَ تعمیر سره متعلقه لېن دېن کښې **CVT** اؤ سټېمپ ډیوټۍ باندې مراعات به برقرار ساتلې شي.
- سرکاري پرائمري اؤ سېکنډري سکولونو اؤ پېشه ورانه ارټ کالجونه کښې داخله فیس ختمولے شي

## دَ دي مشکلاتو نه دَ وتلو دپاره حکومت دَ عوامو مرسته کښې دَ ضروري اخراجاتو په مد کښې **24** ارب روپۍ مختص کړي دي.

اضافي مختص کړے شوي رقوم تفصيل. (اربونو کښې)





نوټ: **COVID** فنډ دَ سماجي خېر ښېګړې پروګرام، صحت، ريليف، سمارټ لاک ډاؤن اؤ **COVID** سره متعلقه نورو اخراجاتو باندې خرڅ کېږي

## مونږ دَ صحت شعبه بدلوو، کوم چې دَ دې شعبې په بجټ کښې تر ننه دَ کېدونکې اضافې نه ښکاري.

### دَ صحت بجټ

دَ دريو کالو موازنه- ارب روپو کښې




دَ FPA او NMAs په شمول 2.2 ارب روپۍ

# ممکن کولو دَپاره بجټ کښې صحت Maximum Service Delivery ته اوله ترجيح ورکړې شوې ده.(1/2)

## دَ صحت بجټ اؤ Covid-19 Contingency

- دَ صحت بجټ اؤ **Covid-19 Contingency**
- دَ صحت دَپاره بجټ دَ **124** ارب روپو ريکارډ
- **24.4** ارب ترقياتي بجټ
- دَ صحت انصاف پروګرام لاندې دَ پښتونخواه هرخاندان دَپاره عالمي هېلتهـ انشورنس دَ صوبې دَ لويو هسپتالونو دَ پاره ، **36** ارب روپۍ مختص کړې شوې دي.
- دَ ورلډ بينک جزوي تعاون سره پۀ ټولو **BHUs** اؤ **RHCs ,THQs, DHQs** کښې انفراسټرکچر اؤ الاتو دَ ښې کارکردګۍ بنئيلو دَپاره **13** ارب روپۍ مختص

## ممکن کولو دَپاره بجټ کښې صحت له Maximum Service Delivery اوله ترجیح ورکړې شوې ده. (2/2)

**دَ صحت بجټ اؤ Covid-19 Contingency**

- دَ دوایۍ دَ اخستو دَپاره بجټ 2.5 نه 4 ارب روپۍ کړے شۀ.
- اؤ دا MTIs دَپاره مختص بجټ نه علاوه دے
- دَ هسپتالونو Waste Management System دَ پاره 1.1 ارب روپۍ مختص
- سروس ډیلیورۍ ښۀ کولو دَپاره دَ 10 هزار عارضي اؤ مستقل هیلتهـ پروفیشنل تعیناتي
- روټین Immunization سره سره پولیو، ډینګي اؤ کورونا سره مقابلې دَپاره اضافي کوششونه
- کورونا سره مقابله، دَ فرنټ لائن ورکرز شهداء پیکج، PPE اخستل، ټیسټنګ، امدادي اقدامات اؤ مستحق خلقو دَ مدد دَپاره احساس پروګرام له مجموعي طور 24 ارب روپۍ Contingency فنډ

# دَ خیبر پښتونخوا حکومت پېښور کښې په ډېر مېګا پراجیکټس باندې کار کوي.

## دَ پېښور دَ ښائست منصوبه

### پېښور اپ لفټ پروګرام

3.5 ارب روپۍ لاګت70 کروړ دې

کال د پاره مختص

### دَ پېښور دَ ښائست منصوبه

50 کروړ لاګت

7 کروړ50 لاکھ دې کال دَ پاره مختص

### رنګ روډ مسنګ لنک

ورسک روډ نه ناصر باغ پورې شمالي

سیکشن تعمیر لاګت 12 ارب روپۍ

### زچه بچه هسپتال

1.3 ارب روپۍ لاګت باندې پېښور

ډویژن کښې ویمن اؤ چلډرن

هسپتال جوړول

### KP ټېکنالوجي یونیورسټي

2.8 ارب روپۍ لاګت پېښور کښې

KPیونیورسټيِ اف ټېکنالوجي جوړول

### پېښور اپ لفټ پروګرام

پېښور ډویژن کښې 200 کلومیټر

سړک دَ تعمیردَ پاره 3.6ارب روپۍ

دَ چارسدې سره لګېدلي سړک بحالي

# سیکٹر وائز بجٹ
# خلاصہ خبري

# سېکټر وائز ځلنده خبرې

# مقامي ضلعو کښې

## دَ صوبائي محکمو بجټ (1/2) (اربونو روپو کښې)

| Sector | Budget 2020-21 Settled | Budget 2020-21 MA | Total Budget 2020-21 |
|---|---|---|---|
| Agriculture | 17,139 | 5,339 | 22,477 |
| Auqaf Religious Minority | 532 | 330 | 862 |
| Bureau of Stats | 43 | 09 | 52 |
| Communication Works | 31,191 | 17,559 | 48,751 |
| Elementary Secondary Education | 152,447 | 31,341 | 183,788 |
| Energy Power | 8,844 | 2,699 | 11,543 |
| Environment | 2,172 | 10 | 2,182 |
| Excise and axation | 887 | 66 | 953 |
| Finance | 5,317 | 9,233 | 14,550 |
| Food | 449 | 2,275 | 2,724 |
| Forestry | 3,136 | 1,305 | 4,441 |
| General Administration | 3,920 | 560 | 4,480 |
| Health | 105,928 | 18,603 | 124,530 |
| Higher Education | 19,314 | 4,784 | 24,097 |
| Home Department | 54,284 | 21,434 | 75,718 |
| Housing | 537 | 00 | 537 |
| Industries | 3,592 | 1,615 | 5,207 |
| Information and Public Relations | 630 | 148 | 778 |
| Information echnology | 910 | 181 | 1,091 |
| Irrigation | 15,885 | 6,943 | 22,828 |
| Labour | 606 | 00 | 606 |
| Law and Justice | 7,667 | 1,404 | 9,071 |
| Local overnment | 28,515 | 3,599 | 32,114 |

## دَ صوبائي محکمو بجټ (2/2) (اربونو روپو کښې)

| Sector | Budget 2020-21 Settled | Budget 2020-21 MA | Total Budget 2020-21 |
|---|---|---|---|
| Mines and Minerals | 978 | 260 | 1,238 |
| Planning and Development | 22,162 | 8,149 | 30,311 |
| Population Welfare | 2,767 | 42 | 2,809 |
| Public Health Engineering | 11,126 | 4,354 | 15,479 |
| Relief, Rehabilitation and Settlement | 12,863 | 19,149 | 32,012 |
| Revenue Estate | 8,754 | 5,986 | 14,740 |
| Social Welfare | 3,102 | 567 | 3,669 |
| Special Initiatives | 4,565 | 50 | 4,615 |
| Sports, Culture, Tourisim | 6,686 | 4,532 | 11,218 |
| Technincal Education | 2,097 | 217 | 2,315 |
| Transport | 14,101 | 100 | 14,201 |
| Zakat and Usher | 235 | 05 | 240 |

## (Settled) مقامي ضلعو كښي اؤ سيكټرز دَپاره مختص کړے شوے بجټ (1/2)

| Department | Current | Development | FPA | Total |
|---|---|---|---|---|
| Agriculture | 7,016 | 4,766 | 5,357 | **17,139** |
| Auqaf & Religious Minority | 160 | 372 | 00 | **532** |
| Bureau of Stats | 43 | 00 | 00 | **43** |
| Communication & Works | 4,711 | 15,251 | 11,299 | **31,191** |
| Elementary & Secondary Education | 133,760 | 10,766 | 7,921 | **152,447** |
| Energy & Power | 106 | 527 | 8,211 | **8,844** |
| Environment | 2,142 | 30 | 00 | **2,172** |
| Excise and Taxation | 737 | 150 | 00 | **887** |
| Finance | 1,753 | 180 | 3,255 | **5,317** |
| Forestry | 636 | 2,500 | 00 | **3,136** |
| General Administration | 3,681 | 239 | 00 | **3,920** |
| Health | 92,158 | 11,567 | 2,203 | **105,928** |
| Higher Education | 12,791 | 6,523 | 00 | **19,314** |
| Home Department | 52,109 | 1,733 | 442 | **54,284** |
| Housing | 337 | 200 | 00 | **537** |

## (Settled) مقامي ضلعو كښي اؤ سبكټرز دَ پاره مختص كړے شوے بجټ (2/2)

| Department | Current | Development | FPA | Total |
|---|---|---|---|---|
| Industries | 648 | 1,783 | 1,161 | **3,592** |
| Information and Public Relations | 486 | 144 | 00 | **630** |
| Information Technology | 382 | 239 | 289 | **910** |
| Irrigation | 3,978 | 9,054 | 2,854 | **15,885** |
| Labour | 371 | 181 | 54 | **606** |
| Law & Justice | 6,677 | 990 | 00 | **7,667** |
| Local Government | 12,828 | 7,488 | 8,199 | **28,515** |
| Mines and Minerals | 748 | 230 | 00 | **978** |
| Planning and Development | 425 | 12,339 | 9,564 | **22,162** |
| Population Welfare | 1,968 | 150 | 649 | **2,767** |
| Public Health Engineering | 7,568 | 3,548 | 10 | **11,126** |
| Relief, Rehabilitation and Settlement | 9,863 | 2,536 | 464 | **12,863** |
| Revenue & Estate | 8,247 | 507 | 00 | **8,754** |
| Social Welfare | 2,352 | 250 | 500 | **3,102** |
| Sports, Culture, Tourism | 2,600 | 2,916 | 1,170 | **6,686** |
| Technical Education | 2,097 | 00 | 00 | **2,097** |
| Transport | 2,284 | 1,826 | 9,991 | **14,101** |
| Zakat & Usher | 235 | 00 | 00 | **235** |

# صحت ایمرجنسي اؤ دَ COVID متعلق لوئے پروګرامونه

تنخواه
**50** ارب روپۍ

اپریشنز
**42** ارب روپۍ

ترقیاتي بجټ
**13.8** ارب روپۍ

امداد
**13** ارب روپۍ

**Covid**
**24** ارب روپۍ

## صحت

### دَ انفراسټرکچر دَ صحت سهولت اؤ دَ صحت سټاف امداد

- دَ صحت کارډ په ذریعه یونیورسل هیلتهـ انشورنس ته رسائي یقیني کولو لپاره **10** ارب روپۍ
- دَ خیبر پښتونخوا هیومن کیپټل انوسټمنټ پراجیکټ کښې سرمایه کاري لپاره **67** کروړ **5** لاکهـ روپۍ
- دَ صحت دَ محکمې طلب پوره کولو لپاره دَ **30** هزار عمله بهرتي کول
- دَ **Integration of Health Services Delivery Programme** لپاره **2.4** ارب روپۍ چې په کښې به **MNCH**، **LHW** اؤ **Nutrition** پروګرام باندې خاص توجه ورکولې شي
- دَ **Non Teaching DHQs** بحالۍ لپاره **101** ارب روپۍ
- دَ صوبې لوئے اؤ اهم هسپتالونو بشمول **IKD** پشاور انسټیټوټ اف کارډیالوجي اؤ **KTH** کښې دَ سهولیاتو دَ توسیع لپاره **4** ارب روپۍ
- دَ کېنسر دَ غریبو مریضانو دَ علاج لپاره **90** کروړ روپۍ
- دَ تېمرګره مېډیکل کالج دَ قیام لپاره **20** کروړ روپۍ
- په خیبر پښتونخوا کښې دَ **BHUs** دَ بهترۍ لپاره اؤ په **200 BHUs** کښې **24** ګهنټې دَ **SBA** سهولیاتو دَ فراهمۍ لپاره **30** کروړ روپۍ

### دَ بهتر هنګامي خدماتو فراهمي

- دَ ریسکیو **1122** سروس دَ خیبر پښتونخوا ټولو ضلعو ته خورولو په سلسله کښې **6** ضلعو چې په کښې ټانك، اپر چترال، اپرکوهستان کولائي پاکس، بټګرام اؤ تور غر شامل دي دَ **29** کروړو روپو په لګښت ریسکیو **1122** سروس کولې شي. چې ورسره به دَ روزګار **1000** نه زیاتې موقعې پیدا شي
- دَ **21** کروړ **50** لکهو روپو په لګښت به نوو ضلعو لکي مروت، لوئر کوهستان، ملاکنډ اؤ شانګله کښې دَ ریسکیو **1122** سروس قیام

### **Covid** ایمرجنسي

- په صوبو کښې دَ **Covid** دَ مقابلې لپاره **24** ارب روپۍ
- **9** اربه روپۍ به په احساس پروګرام خرڅ کېږي
- **5** اربه روپۍ په صحت په فرنټ لائن کارکونکو له دَ **PPE** په خریدارۍ، ټیسټنګ زیاتول اؤ دَ صحت دَ شعبې صلاحیت زیاتولو باندې خرچ کېږي
- **9** اربه روپۍ په ضم شوې ضلعو کښې دَ **Covid** مخ نیوې لپاره
- **1** ارب روپۍ به په قرنطینه مرکزونو، سمارټ لاك ډاؤن په بحالۍ اؤ ابادکارۍ خرڅ کېږي

# دَ تعليم بشمول اعلیٰ تعليم سره تړلي لوئے پروګرامونه

تنخواه
**121** ارب روپۍ

اپريشنز
**13** ارب روپۍ

ترقياتي بجټ
**18.7** ارب روپۍ

تعليم

دَ **26،000** سکولونو بهتري

- **Unit Independent Monitoring** ته دَ **, Education Monitoring Authority** په نوم باندې مستقل حېثيت ورکړے شۀ.
- دَ ليډرز انډکشن په ذريعه دَ **3000** سکولونو انتظامي کنټرول **64** سکولونه په يو منېجر په ځائې په لسو سکولونو يو منېجر پورې راولو.
- راتلونکے کال نه ټولو بهرتي شوې استاذانو ته **Tablet** الاؤنس ورکولے شي. چې هغوي دَ هلکانو بهتر تربيت وکړے شي اؤ بهتر ښودنه وکړے شي.
- په صوبه کښې **1200** سکولونو دَ نوي سر نه تعمير لپاره **2600** ملينه روپۍ
- په صوبه کښې دَ **300** سکولونو تعمير
- دَ **534** سکولونو **Upgradation 1500** ميلين روپۍ
- دَ **IT** لېبارټرو لپاره **910** ملين روپۍ

تنخواه
**11.2** ارب روپۍ

اپريشنز
**1.6** ارب روپۍ

ترقياتي بجټ
**6.5** ارب روپۍ

اعلیٰ تعليم

دَ کالجونو اؤ يونيورسټيو بهتري

- **500** ميلين روپۍ دَ هرې پور **Austrian Fachhochschule** انسټيټيوټ لپاره
- **116** ميلين روپۍ دَ **UET** سوات دَ قيام لپاره
- په صوبه کښې دَ **74** کالجونو دَ قيام اؤ تعمير لپاره **1300** ميلين روپۍ
- دَ سوات يونيورسټۍ قيام

# دَ ښارونو اؤ کلو دَ ترقۍ اؤ اوبو ته دَ رسائۍ لوئے پروګرامونه

| | |
|---|---|
| تنخواه **2.6** ارب روپۍ<br>★ اپریشنز **10.2** ارب روپۍ<br>★★ ترقیاتي بجټ **15.7** ارب روپۍ | **دَ ښارونو اؤ کلو ترقي**<br>• **10,000** ګندګي را غونډونکي کارکنان، دَ ګند دَ صفائۍ بهتر نظام لپاره بهرتي کولې شي<br>• دَ **EU** په مرسته په منتخبو ضلعو کښې انفراسټرکچر اؤ دَ میونسپل سروس بهتر کولو لپاره **3900** میلین روپۍ<br>• دَ ورسك روډ نه ناصر باغ پورې دَ رنګ روډ دَ شمالي سېکشن دَ تعمیر لپاره **1800** میلین روپۍ<br>• دَ پېښور اپ لفټ پروګرام لاندې دَ پېښور دَ تبدیلۍ لپاره **550** میلین روپۍ<br>• دَ پجګۍ روډ نه ورسك روډ پورې دَ رنګ روډ دَ شمالي سېکشن دَ تعمیر لپاره **200** میلین روپۍ<br>• په صوبه کښې دَ کلو دَ سړکونو بحالۍ لپاره **300** میلین روپۍ<br>• په خیبر پښتونخوا کښې دَ بس ټرمینل تعمیر<br>• په صوبه کښې دَ پارکونو تعمیر و ترقي<br>• په منتخب ضلعو کښې لکه مانسهره، چترال سوات اؤ اپر دیر کښې **Landfill** سائټس قیام<br>• په منتخب تحصلونو کښې دَ مېوؤ اؤ سبزۍ دَ منډو قیام<br>• په منتخب تحصیلونو کښې دَ قصاب خانو قیام |
| تنخواه **3.8** ارب روپۍ<br>اپریشنز **3.8** ارب روپۍ<br>ترقیاتي بجټ **3.6** ارب روپۍ | **دَ صفا اوبو فراهمي**<br>• دَ مانسهرې په ضلع کښې دَ ګرېوټي واټر سپلائي سکیم<br>• **830** میلین روپۍ دَ څښلو اوبو اؤ دَ نکاسۍ دَ سکیمونو لپاره<br>• **200** میلین روپۍ په صوبه کښې دَ **400** سپلائي سکیمونو سولرائیزېشن، ګرېوټي سکیمونو اؤ هائیډېډ سکیمونو لپاره<br>• په ګدون صوابۍ کښې دَ څښلو دَ اوبو لپاره دَ اتلا ډیم تعمیر<br>• په کوهاټ کښې دَ دریائے سندھ نه دَ څښلو اوبو دَ سکیم لپاره **210** میلین روپۍ |

★ دَ **TMAS** لپاره دَ **Octrio** حصه **6.2** ارب روپۍ اؤ **UIPT** حصه **1** ارب روپۍ

★★ دې کښې لوکل ګورنمنټ اؤ اربن ډیولپمنټ سېکټر هم شامل دي

# دَ سپلګرۍ لوئے پروګرامونه

| تنخواه | 0.6 ارب روپۍ |
|---|---|
| اپریشنز | 2 ارب روپۍ |
| ترقیاتي بجټ | 4 ارب روپۍ |

## لوبي اؤ سپلګري

- دَ ورلډ بینك په مرسته دَ KITE پروګرام لاندې دَ سیاحت فروغ اؤ ترقۍ لپاره **1100** میلین روپۍ
- خیبر پښتونخوا کښې **1000** دَ لوبو مرکزونو دَ تعمیر اؤ ترقۍ لپاره **330** میلین روپۍ
- ملاکنډ اؤ هزاره ډویژن کښې دَ نوؤ سیاحتي مقاماتو فروغ لپاره دَ **370** میلین روپو په لګښت دَ ټورزم روډونو تعمیر
- په صوبه کښې دَ انټرنیشنل کرکټ دَ فروغ په غرض دَ ارباب نیاز سټیډیم تعمیر لپاره **440** میلین روپۍ
- په صوبه کښې دَ سپلګرۍ دَ ودې لپاره دَ نوي ټورزم اتهارټي قیام
- په صوبه کښې دَ سیاحتي لوبو فروغ
- په صوبه کښې دَ لوبو دَ میدانونو قیام

## دَ معاشي ترقۍ، روزګار اؤ توانائۍ سره تړلې لوئې پروګرامونه

### معاشي ترقي اؤ روزګار

- **10,000** وړو اؤ درمياني کاروبارونو لپاره دَ کرېډټ ګارنټۍ سره به **10** لکھو کسانو ته فائده ورسي
- **30,000** کاروبارونو لپاره دَ بلاسود مائېکروفنانس دَ سهولت نه به **5** لکھو کسانو ته فائده ورسي
- دَ ورلډ بېنك دَ **ERKF** پروګرام په مرسته به تند معاشي ترقۍ والا سېکټرو کښې دَ روزګار موقعې پېدا شي
- دَ بلين ټري سونامي پراجېکټ لاندې دَ **195** میلین ونو دَ کرلو لپاره به **25,000** کسانو ته روګار ورکولے شي
- په معاشي زونونو کښې به مراعات ورکولے شي
- دَ بونېر ماربل ستي لپاره دَ **100** ايکړ زمکه اخستل
- دَ **MDTF** په مرسته په خېبر پښتونخوا کښې دَ ډيجيټل ټېکنالوجي سره متعلقه دَ روزګار موقعو لپاره **290** میلین روپۍ
- رشکۍ اکنامك زون ته دَ رسائۍ دَ تکمیل لپاره فنډنګ
- دَ ملك دَ بهترينو ټرېننګ ادارو په ذريعه دَ روزګار سره تړلے دَ اعلیٰ معيار دَ تربيت فراهمي

### توانائۍ ته رسائي

- په سوات کښې دَ **88** مېګاواټ دَ ګبرال، کالام هائيډرو پراجېکټ دَ تعمير لپاره **800** میلین روپۍ
- په سوات کښې دَ **157** مېګاواټ مدين هائيډرو پراجېکټ تعمير لپاره **600** میلین روپۍ
- دَ **ADB** په اشتراك دَ **PKHA** په ذريعه په صوبه کښې دَ سړکونو دَ بحالۍ پراجېکټ لپاره **5,700** میلین روپۍ
- دَ **ADB** په اشتراك دَ مردان صوابۍ روډ دوه مخيزه کولو لپاره **4.2** ارب روپۍ
- دَ خېبر پښتونخوا په تمامو ډويژنو کښې دَ **835** کلوميټره سړکونو دَ تعمير اؤ بحالۍ لپاره **3500** میلین روپۍ
- په بندوبستي ضلعو کښې دَ **4000** جماعتونو ، دَ اکثرو سکولونو اؤ **BHUS** سولرائيزېشن
- په خېبر پښتونخوا کښې دَ ټوټل **35.4** مېګاواټ وړو اؤ لويو هائېډرو پاور سټېشنونو تعمير

# دَ ضم شوي ضلعو
# سیکټر وائیز بجټ

## په ضم شوي ضلعو کښې دَ محکمو اؤ سېکټرو لپاره مختص بجټ (1/2)

| Department | Current | Development | AIP | Total |
|---|---|---|---|---|
| Agriculture | 1,147 | 777 | 738 | **2,677** |
| Auqaf & Religious Minority | 00 | 145 | 00 | **185** |
| Bureau of Stats | 09 | 00 | 00 | **00** |
| Communication & Works | 1,698 | 4,104 | 2,560 | **9,197** |
| Elementary & Secondary Education | 19,825 | 2,647 | 1,110 | **7,759** |
| Energy & Power | 00 | 1,000 | 00 | **1,699** |
| Environment | 00 | 10 | 00 | **00** |
| Excise and Taxation | 00 | 66 | 00 | **00** |
| Finance | 9,223 | 10 | 00 | **00** |
| Forestry | 579 | 626 | 00 | **100** |
| General Administration | 502 | 58 | 00 | **00** |
| Health | 7,989 | 2,363 | 00 | **8,251** |
| Higher Education | 2,334 | 847 | 00 | **1,603** |
| Home Department | 19,050 | 724 | 00 | **1,660** |

## په ضم شوي ضلعو کښې دَ محکمو اؤ سېکټرو لپاره مختص بجټ (2/2)

| Department | Current | Development | FPA | AIP | Total |
|---|---|---|---|---|---|
| Industries | 13 | 529 | 42 | 1,031 | **1,615** |
| Information and Public Relations | 15 | 33 | 00 | 100 | **148** |
| Information Technology | 00 | 131 | 00 | 50 | **181** |
| Irrigation | 191 | 2,031 | 00 | 4,721 | **6,943** |
| Law & Justice | 1,042 | 262 | 00 | 100 | **1,404** |
| Local Government | 145 | 2,614 | 00 | 840 | **3,599** |
| Mines and Minerals | 70 | 120 | 00 | 70 | **260** |
| Planning and Development | 61 | 888 | 6,061 | 1,139 | **8,149** |
| Population Welfare | 10 | 32 | 00 | 00 | **42** |
| Public Health Engineering | 1,021 | 1,926 | 00 | 1,407 | **4,354** |
| Relief, Rehabilitation and Settlement | 17,107 | 81 | 00 | 1,961 | **19,149** |
| Revenue & Estate | 4,822 | 564 | 00 | 600 | **5,986** |
| Social Welfare | 83 | 84 | 00 | 400 | **567** |
| Sports, Culture, Tourism | 26 | 1,271 | 35 | 3,200 | **4,532** |
| Technical Education | 217 | 00 | 00 | 00 | **217** |
| Transport | 00 | 00 | 00 | 100 | **100** |
| Zakat & Usher | 05 | 00 | 00 | 00 | **05** |

# دَ صحت دَ شعبې لوئے پروګرامونه

| تنخواه |
|---|
| 6.7 ارب روپۍ |
| اپریشنز |
| 1.4 ارب روپۍ |
| ترقیاتي بجټ |
| 10.6 ارب روپۍ |

## صحت

- 1 ارب روپۍ THQ , RHCs, BHS اؤ DHQs له دَ طبي سامان اؤ په خاص توګه دَ هیپاټائټس، ټي بي اؤ HIV سره متعلق سپلايۍ لپاره
- دَ هیلتھ فاؤنډیشن په ذریعه 4 ډي ټائپ هسپتالونو دَ Out Sourcing لپاره 800 میلین روپۍ
- په سېکنډري هسپتالونو کښې دَ معیاري میډیکل/ نان میډیکل الاتو دَ فراهمۍ لپاره 1 ارب روپۍ
- دَ لرې علاقو لپاره په سپیشل پیکج باندې دَ ډاکټرانو دَ بهرتۍ لپاره 1 ارب روپۍ
- دَ اهم سپیشلټیز شپیلستانو په Consultants KPIS باندې بهرتي
- DHQs پورې دَ وینې ترسیل دَ هغې سټوریج اؤ سکریننګ سره سره دَ ریجنل بلډ سنټرو لپاره 100 میلین روپۍ
- دَ ضم شوې ضلعو دَ صحت مرکزونو لپاره دَ نرسانو اؤ پیرا میډیکس دَ بهرتۍ لپاره 100 میلین روپۍ
- په DHQs کښې دَ ټراما سنټرو قیام اؤ بهرتۍ لپاره 50 میلین روپۍ

# دَ تعليم اؤ اعلیٰ تعليم لوئے پروګرامونه

## تعليم

- دَ پي ټي سي په ذريعه په سکولونو کښې بنيادي اؤ پاتې سهولياتو لپاره دَ **2** ارب مشروط ګرانټس
- دَ ضم شوي ضلعو دَ طلباؤ اؤ طالباتو دَ وظيفو لپاره **3.7** ارب روپۍ
- دَ **73** هائي سکولونو هائر سيکنډري ليول ته اؤ دَ **69** مډل سکولونو ، هائي سکولونو لېول ته اپ ګرېډېشن لپاره **250** ميلين روپۍ
- پرائمري مډل اؤ هائي سکولونو دَ استاذانو دَ بهرتي لپاره کافي فنډ مختص
- دَ ايجوکېشن واؤ چر سکيم لپاره **50** ميلين روپۍ مختص
- دَ جزوي طور تباه سکولونو دَ نوي سر نه تعمير
- په سکولونو کښې باؤنډري وال، فرنيچر، ټائلټس، دَ څښلو اوبو اؤ دَ نوي کلاس رومونو دَ جوړولو لپاره کافي فنډ مختص

| | |
|---|---|
| تنخواه | **18.6** ارب روپۍ |
| اپرېشنز | **1.3** ارب روپۍ |
| ترقياتي بجټ | **11.6** ارب روپۍ |

## اعلیٰ تعليم

- دَ موجوده ګورنمنټ کالجونو دَ بهترۍ لپاره **500** ميلين روپۍ
- دَ اعلیٰ تعليم مرکزونو ته دَ ټراسپورټ لپاره **490** ميلين روپۍ
- ايف.ار کوهاټ، باجوړ اؤ خېبرايجنسۍ کښې دَ ګورنمنټ کالج دَ قيام لپاره **400** ميلين روپۍ
- دَ ضم شوؤ ضلعو دَ طلباء اؤ طالباتو دَ وظيفي لپاره **200** ميلين روپۍ
- دَ ټيچنګ فېکلټۍ لپاره دَ کارکردګۍ په بنياد دَ پېکج اؤ موجوده کالجونو کښې دَ سټاف فراهمي

| | |
|---|---|
| تنخواه | **2.3** ارب روپۍ |
| اپرېشنز | **0.06** ارب روپۍ |
| ترقياتي بجټ | **2.5** ارب روپۍ |

## دَ سپلګرۍ لوئے پروګرامونه

**ترقياتي بجټ**
**4.5** ارب روپۍ

### سپلګري اؤ لوبې

- دَ لوبو مرکزونو دَ قيام اؤ اپ ګرېډېشن لپاره **1.2** ارب روپۍ
- دَ يوتھ ډيوېلپمنټ پېکج لاندې دَ ځلمو دَ مرکزونو دَ قيام لپاره **1.15** ارب روپۍ
- دَ ځلمو دَ سټارټ اپ پروګرام لپاره **100** ميلين روپۍ
- دَ ارټ اؤ کلچر سنټرونو دَ قيام لپاره **100** ميلين روپۍ
- دَ لوبو دَ ودې لپاره **400** ميلين روپۍ
- دَ سپلګرۍ دَ مقاماتو، ټورسټ انفارمېشن سېنټرز، پکنک سپاټس اؤ دَ رېسټ ايرياز دَ قيام اؤ ترقۍ لپاره اقدامات
- دَ سپلګرۍ سرګرمۍ دَ مېلو انعقاد اؤ دَ سپلګرۍ علاقو دَ خوبصورتۍ لپاره اقدامات

**تنخواه**
**1.4** ارب روپۍ

**اپرېشنز**
**0.4** ارب روپۍ

**ترقياتي بجټ**
**16** ارب روپۍ

### دَ رسائۍ بهتري

- دَ باجوړ دَ سوات ايکپريس وے سره دَ ترون په غرض دَ برنګ سرنګ تعمير اؤ په شمالي وزيرستان کښې **54** کلوميټر اورډ مير علي، شوه اؤ تهل روډ دَ تعمير لپاره**1.5** ارب روپۍ
- **1** ارب روپۍ دَ **33** کلوميټره خار اؤ مامدګټ روډ دَ بهترۍ لپاره
- **800** ميلين روپۍ دَ **14** کلوميټره دَ پير قلعه اؤ غلنۍ روډ دَ بحالۍ لپاره
- **400** ميلين روپۍ په ضلع کرم کښې دَ سړکونو دَ بهترۍ لپاره
- دَ غلنۍ نه دَ سرلاره پورې **64** کلوميټره موجوده روډ دَ پلنولو لپاره **250** ميلين روپۍ
- په سپينکۍ اؤ وانا جنوبي وزيرستان کښې دَ **100** کلوميټره سړکونو تعمير
- دَ متنو نه تخته بېګ پورې **28** کلوميټره فرنټير روډ بحالي

# دَ اوبو دَ سپلائی لوئے پروګرامونه

| تنخواه | اپریشنز | ترقیاتي بجټ |
| --- | --- | --- |
| 0.6 ارب روپۍ | 0.4 ارب روپۍ | 3.4 ارب روپۍ |

## اوبو ته رسائي

- په ضلع خیبر کنبې دَ جبه ډیم دَ تعمیر لپاره 1 ارب روپۍ
- دَ ایریګېشن چېنلو او دَ اوبو دَ تالابونو دَ بهترۍ لپاره 900 ملین روپۍ
- دَ اوبو دَ ستور کولو تالابونو دَ تعمیر لپاره 700 ملین روپۍ
- دَ DWSS سکیمونو اؤ ګرېوټي سکیمونو دَ سولرائیزېشن اؤ بحالۍ لپاره 1.14 ارب روپۍ
- دَ وړو نوؤ ډیمونو دَ تعمیر لپاره 500 ملین روپۍ

For more information and feedback:

FINANCE DEPARTMENT
Government of Khyber Pakhtunkhwa

GoKPFD
Finance Department Khyber Pakhtunkhwa

+92 (91) 9210531
finance.gkp.pk

مرسته:
پراجېکټ کپېسټي بلډنګ اېنډ سټرنټنګ
فنانس ډیپارټمنټ اف خیبر پښتونخوا

پښتو ترجمه:
نیمروز قیس